PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

### درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

### درس حدیث

از ابو هریره (رضی الله عنه) روایت است که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: ((سوګند به ذاتی که جانم در دست اوست، کسی از شما نمی تواند مؤمن باشد، تا زمانی که من (پیامبر (صلی الله علیه وسلم)) نزد او از پدر و فرزندش محبوب تر نباشم.))

(صحیح البخاری)

شهادت پنځم کال، ۳۱ مه ګڼه، پرله پسې ۲۳۰ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لیندۍ ۱۹ مه د۱۴۳۵ هـ ق د صفر المظفر ۲ مه د۲۰۱۳ م د دسمبر ۱۰ مه

# افغانستان و ایران پیمان دوستی و همکاری دراز مدت امضا می کنند

رییس جمهور کرزی و حسن روحانی، رییس جمهوری ایران در دیدار روز گذشته روی امضای یک پیمان دوستی و همکاری دراز مدت توافق کردند.

کابل، رسانه ها:
روسای جمهوری افغانستان و ایران با هم دیدار و در ارتباط با گسترش روابط و تقویت همکاری های دوجانبه بحث و تبادل نظر کردند
حامد کرزی، رئیس جمهوری افغانستان صبح روز گذشته به دعوت رسمی رییس جمهوری ایران وارد تهران، پایتخت این کشور شد.
روسای جمهوری افغانستان و ایران با هم دیدار و در ارتباط با گسترش روابط و تقویت همکاری های دوجانبه بحث و تبادل نظر کردند.
آنان در جریان این دیدار روی تنظیم و امضای پیمان دوستی و همکاری های دراز مدت میان افغانستان و ایران توافق کردند.
براساس این توافق، پیمان همکاری میان دو کشور در عرصه های سیاسی، امنیتی، اقتصادی و فرهنگی به امضا خواهد رسید.
همچنان گفته شده که این پیمان در راستای تامین صلح و امنیت منطقه امضا خواهد شد....

(ص ۴)

# ټاکنو کې درغلۍ او ناامني لوېي ننګونې بلل شوي

دغه ډلې سپارښتنه کړې چې په راتلونکو ټاکنو کې د حکومت د احتمالي مداخلې د مخنیوي اصل لاپیاوړی شي

کابل، رسنۍ:
د ملي ډیموکراټیک انسټیټوټ له خوا د یوې ارزونې پایلې ښیي چې د راتلونکي کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په اړه د افغانستان په سیاسي چاپېریال کې خوشبیني شته خو امنیتي ستونزې او د درغلۍ ویره د دې ټاکنو په وړاندې لوېې ننګونې دي.
ملي ډیموکراټیک انسټیټوټ این ډي آی چې یو نادولتي بنسټ دی وایي په افغانستان کې په تیرو څو کلونو کې د ټاکنو په اړه مثبت بدلونونه راغلي دي.
د دې انسټیټوټ له خوا شوې ارزونه ښیي چې دې بدلونونو د راتلونکو ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په اړه ...

(۴ مخ)

# هشدار وزیر دفاع امریکا در مورد تاخیر در امضای توافقنامهء امنیتی!

امضای موافقتنامه با افغانستان برای پلان ګذاری های امریکا و متحدان اش مهم است - (هیګل)

((در صورت امضا نشدن موافقتنامهء امنیتی و دفاعی کابل و واشنګتن، خروج تمام نیرو های امریکایی در ختم سال ۲۰۱۴ از افغانستان یک احتمال بسیار واقعی است))

کابل، رسانه ها:
وزیر دفاع امریکا هشدار داده است که اګر رییس جمهور کرزی موافقتنامهء امنیتی و دفاعی کابل و واشنګتن را امضا نکند، خروج تمام نیرو های امریکایی در ختم سال ۲۰۱۴ از افغانستان یک احتمال بسیار واقعی است.
وزیر دفاع امریکا هشدار داد که اګر موافقتنامهء امنیتی و دفاعی کابل و واشنګتن امضا نشود، امریکا قادر نخواهد بود تا در افغانستان باقی بماند.

(ص ۴)

# انتخابات ریاست جمهوری تحت سایهٔ قرارداد امنیتی

فدا محمد فایض

اګر برای امریکا امضای پیمان با قرارداد امنیتی با افغانستان مهم است چنانچه از فشارهای ګوناګون این حقیقت هویداست؛ ولی برای افغانستان علاوه بر منافع ملی اش در قرارداد، انتخابات آیندهٔ ریاست جمهوری نیز مهم است. خواست ملت افغان این است که این انتخابات بر وقت و زمانش و بدون هیچګونه مداخلهٔ داخلی و خارجی و بدون هیچګونه تقلب بصورت شفاف انجام شود و واقعاً حکومتی بمیان آید که بتواند آنرا نمایندهٔ واقعی ملت خواند. اینکه ایا چنین آرمانی بسر خواهد رسید یا نه، آنرا زمان جواب خواهد ګفت.

(ص ۳)

راشدي:

# مافیا او وسلوال مخالفین د کوکنارو د کښت ملاتړ کوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د نشه یي توکو پرضد د مبارزې وزارت د بېلابېلو ولایتونو له مسوولینو وغوښتل، هغه پېښې دي د لکسو پروژو پرځای د بزګرو بر اړتیا ولګوي چې د کوکنارو د مخنیوي لپاره بېلابېلو پروژو ته ورکول کېږي.
دغه وزارت دا غوښتنه د اتلسو هغو ولایتونو چې؛ کوکنار په کې کرل کېږي، د والیانو او امنیتي مسوولینو په کنفرانس کې وکړه.
له نشه یي توکو سره د مبارزې

(۴ مخ)

# په افغانستان کې دسواد زده کړو ۱۶۶۰۰ مرکزونه دي

کابل، رسنۍ:
په کابل کې دسواد زده کړو دملي کنفرانس پر مهال دپوهنې وزیر ډاکټر فاروق وردګ ویل چې په هیواد کې شته ناخوالې دبې سوادۍ دلوړې کچې له کبله رامنځته شوې دي او تر هغه به دوام ولري چې خلک باسواده نه شي.
وردګ وایي چې دهمدې ټکي په پام کې نیولو سره یې هڅه دا ده چې دنالوستو کسانو ...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# يواځې ملي يووالی ملي ګټې تضمينولی شي

د نړۍ په سر يو قوم هله د عزت، وقار او خوشحال ژوند له خوږو څخه برخمن کيدلې شي چې خپل استقلال، پرمختګ او ملي ګټو ته په صحيح معنا ژمن وي، که د تاريخ په پاڼو ژور نظر واچوو او د قومونو عروج او زوال ته وګورو نو هر قوم د خپل عروج او زوال پخپله معمار او موسس دی. کومو قومونو او ولسونو چې له خپل هېواد او ولس سره مينه کړې، په ټولو ملي او بين المللي مسايلو کې يې يو دريځ يې نيولی، د هر مشکل په خلاف په يو منظم فولادي صف کې ودريدلی، له هر ډول داخلي کشمکشونو او شخړو څخه يې ډډه کړې، هغوی د پرمختګ لوړو منارو ته ختلي او د ژوند په هر ډګر کې يې په زړه پورې برياليتوبونه ترلاسه کړي دي. مګر کومو قومونو چې د خپل هېواد او ولس قدر نه دی پېژندلی، خپلې ملي ګټې يې په پام کې نه دي نيولي، د ملي يووالي او ملي استحکام پراهميت نه دي پوه شوي، هغوی پخپل لاس خپل ټول ارزښتونه بايللي او د ذلت په کنده کې لويدلي دي.

موږ افغانان چې يو وخت په ګرده نړۍ کې د يو متفق ولس په نوم پيژندل کيدل او د نړۍ په مسايلو کې يې رغنده رول لوباو، يو ځل بيا هله خپله بايللې پياوړتيا، ملي حاکميت او بين المللي وقار ترلاسه کولی شوو چې په واقعي معنا د هر څه دمخه خپلو نيمګړتياو ته پاملرنه وکړو او دهغوی د پوره کولو لپاره په ټينګ عزم د عمل ډګر ته ودانګو. له څه شک پرته زموږ نيمګړتياوې هم ښکاره دي او کمزورتياوې هم، زموږ تر ټولو سترې نيمګړتياوې خپلمنځي جګړې، توکميز تعصبونه، ټولنيز فساد، رشوت، درغلۍ، ويشلي دريځونه او پاشلي سياستونه دي چې ان د هېواد په بنسټيزو مسئلو کې هم په يوه خوله نه يو، ولسمشر غنم وايي او وزير يې اوربشي، په داسې حال کې چې افغانستان په اوسنيو حساسو شرايطو کې په يوه خوله ټينګ او متفق عليه دريځ ته ضرورت لري. د افغانستان دښمنان بډ وهلي ولاړ دي او دهغې شيبې انتظار وباسي چې د مناسب وخت د ترلاسه کولو په صورت کې افغانستان پخپلې ناولۍ خولۍ کې واچوي؛ نو ځکه د دښمنانو له دغو ناولو عزائمو څخه د بچ پاتې کېدلو او د افغانستان د سلامتيا لپاره غښتلي دريځ او ملي يووالې تر ټولو مهمه اړتيا ده. زموږ د افغانانو يو دريځ او ملي يووالی زموږ د ملي غوښتنو او ملي پياوړتيا اصلي بنسټ دی. ددې لپاره چې خپله ځمکنۍ بشپړتيا، ملي استحکام او روا غوښتنې مو ترلاسه کړې وي نو په ملي مسائلو کې د پاشلو دريځونو پرځای د يو غږ او يو شعار پورته کول پکار دی. تر څو وکولای شو پخپلو ټولو ملي مسايلو او ملي ګټو کې ښې لاسته راوړنې ولرو او له مقابل لورې څخه په پوره ځواک او استقامت خپل روا حقونه ترلاسه کړو. که خدای مکړه اوس هم خپلو نيمګړتياو ته متوجه نه شوو او د پخوا په څېر پر خپلو پاشلو دريځونو ټينګار وکړو نو پخپلو لاسو به مو خپلې ګټې پخپله د پرديو په ځوليو کې وراچولې وي چې په سلو کې سل مسؤوليت به يې زموږ پر غاړه وي.

# انتخابات ریاست جمهوری تحت سایهٔ قرارداد امنیتی

فدا محمد فایض

براساس حکم قانون اساسی که دورهٔ دوم ریاست جمهوری رئیس جمهور حامد کرزی هم در آستانهٔ اتمام قرار دارد، باید انتخابات اجرا شود. درین رابطه تشویشهای زیادی وجود داشت و بخصوص مخالفان سیاسی دولت می انگاشتند که شاید انتخابات صورت نگیرد و رئیس جمهور بهانه یی برای در قدرت ماندن تدارک ببیند؛ ولی این همه تشویشها درست ثابت نشد. کمیسیون مستقل انتخابات تاریخ انتخابات دور سوم ریاست جمهوری را هم اعلان کرد (۱۶ حمل ۱۹۹۳). این اعلان تا حدی امواج تشویشها را فرو نشاند و بعداً که زمان کاندیداتوری رسید وعده یی خود را برای ریاست جمهوری آینده کاندید نمودند. تشویشها بیش از پیش کاهش یافت؛ لست ابتدایی و نهایی کاندیداها هم اعلان شد و حال مردم ما چشم براه بودند که مرحلهٔ کمپاین آغاز شود تا دیده شود که کدام کاندید برای فردای این ملت رنجور و این کشور جنگزده چه برنامه یی دارد. آیا این برنامه ها قف سر دریا ثابت خواهند شد و یا اینکه امکانات عملی شدن هم خواهد داشت.

در همین گیرو دار موضوع امضای پیمان امنیتی با امریکا سر برافراشت. لویه جرگهٔ مشورتی تدویر یافت؛ ولی بعدها از جریان لویه جرگهٔ مشورتی ثابت گردید که تدویر کنندگان بنابر هر دلیلی که بود میخواستند کلوخ را در آب مانده و از سرآن بگذرند. در لویه جرگه بیشتر تحلیلها و نظریات بگونهٔ احساساتی و یک جانبه ارائه گردید و به بیشتر از افرادی که میخواستند منافع کشور هم درنظر گرفته شود و تصمیم یک جانبه و سرسری گرفته نشود مجال داده نشد که نظریات خود را ابراز کنند. این حقیقت بعد از ختم لویه جرگه به مطبوعات و اذهان عامه درز نمود.

گرچه قراردادها بین دو کشور در بخشهای مختلف کدام امر جدیدی نیست؛ ولی هر کشور از خود ارزشها و منافع بخصوص دارد و در همچو قراردادها هر دو جانب منافع خود را می سنجند. اگر قرارداد را به نفع خود یافتند آنرا عقد میکنند و اگر بزیان خود یافتند از آن ابا می ورزند. در همچو قراردادها منافع افراد و گروهها ارزشی ندارد، بلکه باید منافع کشور و منافع همهٔ ملت درنظر گرفته شود.

به همه حال موقفگیری اخیر رئیس جمهور حامد کرزی در برابر محتویات این قرارداد وضعیت را دگرگون کرد، رئیس لویه جرگهٔ مشورتی به علامت عدم رضایت به ترکیه رفت و یکی از گردانندگان آن به جرمنی برگشت. البته فیصله های لویه جرگه از نظر حکم قانون اساسی الزامی نبود که رئیس جمهور حتماً باید آنرا می پذیرفت؛ زیرا فردا در برابر این قرارداد جوابگوی اصلی رئیس جمهور است؛ ولی این حقیقت است که لویه جرگه به رئیس جمهور مشوره یی نداد که میتوانست با درنظرداشت این مشوره ها راهی برای این کور گره بیابد. در حقیقت رئیس جمهور در تنگنای مزیدی قرار گرفت و فشارهای داخلی و خارجی از طرق مختلف بالای رئیس جمهور افزون گشت؛ ولی تا نوشتن این سطور (۱۸ / ۹ / ۱۳۹۲) رئیس جمهور هیچگونه انعطافی در موقف خود نیاورد و هرگونه فشار را جواب رد داد.

اکنون که رئیس جمهور بر موقف خود ثابت ماند، از اظهارات مقامات امریکایی چنان مینماید که رئیس جمهور در موقفگیریهای اخیرش حق بجانب بود، زیرا بعد از تدویر لویه جرگه قوای امریکایی در چندین نقطهٔ کشور بالای خانه های مردم حمله کردند و جنرال جان الن قوماندان نیروهای خارجی در افغانستان به ارتباط حادثه یی که در هلمند رخ داده بود پوزش نیز خواست، هکذا رسانه ها از قول جیمز دابنز نمایندهٔ خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان حکایت کردند که در حضور رئیس جمهور کرزی اعتراف کرد که اگر جنگ در افغانستان قطع شود پس ضرورت حضور این نیروها در افغانستان چیست؟ اینگونه اظهارات واقعاً تشویش آور است و یا اینکه اگر پیمان امنیتی امضا نشود در افغانستان جنگ داخلی آغاز خواهد شد. چنین اظهار اعتراف روشنی است که ملت افغانستان تا اکنون در برابر جنگی که از بیرون بالای آن تحمیل شده است، میجنگد.

از اظهارات اخیر مقامات امریکایی این هم واضح میشود که برخلاف آنچه آنان برای امضای قرارداد امنیتی بالای افغانستان فشار میآوردند عجله ندارند؛ مثلاً لوی درستیز امریکا میگوید آنها میتوانند تا بهار آینده نیز صبر کنند و حتی اشاراتی برای متقاعد شدن امضای پیمان مذکور با رئیس جمهور جدید نیز بملاحظه رسید.

خوب، اصل حرف ما بر سر انتخابات است. اگر برای امریکا امضای پیمان یا قرارداد امنیتی با افغانستان مهم است چنانچه از فشارهای گوناگون این حقیقت هویداست؛ ولی برای افغانستان علاوه بر منافع ملی اش در قرارداد، انتخابات آیندهٔ ریاست جمهوری نیز مهم است. خواست ملت افغان این است که این انتخابات بر وقت و زمانش و بدون هیچگونه مداخلهٔ داخلی و خارجی و بدون هیچگونه تقلب بصورت شفاف انجام شود و واقعاً حکومتی بمیان آید که بتواند آنرا نمایندهٔ واقعی ملت خواند. اینکه ایا چنین آرمانی بسر خواهد رسید یا نه، آنرا زمان جواب خواهد گفت؛ زیرا در دو دوره انتخابات گذشته هم خواست ملت همین بود که انتخابات شفاف و عادلانه باشد و درین رابطه وعده ها هم داده میشد؛ ولی دیدیم که نه آرزوی ملت برآورده شد و نه هم وعده ها به واقعیت پیوست. از سویی هم دستهای بیرونی آشکارا در آن مداخله میکردند که یکی از کارمندان یوناما به این رابطه متهم هم شد و از کشور اخراج گردید.

گرچه افغانستان دوبار در زمان سلطنت محمد ظاهر شاه هم دموکراسی را تجربه کرد؛ ولی تجربهٔ مثبتی از آن نگرفت و دموکراسیها به انارشیها انجامید که یکبار دولت مجبور شد دموکراسی اعلان کردهٔ خود را دوباره مسترد نماید و بار دوم زمینه را برای کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ هموار ساخت؛ ولی اینبار، بار نخست است که ملت زعامت خود را از طریق انتخابات سرتاسری بر می گزینند. داوود خان جمهوریت را اعلان نمود؛ ولی جمهوریت بدون انتخابات، او خود از طریق یک لویه جرگهٔ فرمایشی که هر عضو از فلترهای دولتی برآمده بود برای یک دوره انتخاب شد که از جریان جرگه همهٔ ملت به تقلب دولت پی برد. داوود خان در ابتدا نزاکتهایی را به نمایش گذاشت که او حاضر نیست این بارسنگین مسؤولیت را بر دوش کشد؛ ولی افراد گماشته شده از قبل فریاد برآوردند که ما بدون سردار محمد داوودخان کسی دیگری را قبول نداریم و او هم بعد از پذیرش، خط مشی از قبل تهیه شده و نوشته شده را از جیبش برون کرد و به خوانش گرفت.

افغانستان بدون شک از یک مرحلهٔ بسیار حساس و دشوار تاریخ معاصر خود عبور میکند. حضور پنجاه کشور دنیا خواهی نخواهی و اگر هر قدر هم خوشبینانه توجیه شود، اثرات ناگوار خود را برجا مانده است، از همه مهمتر این که این حضور بهانهٔ ادامهٔ جنگ در افغانستان را مهیا ساخته است. اگر خارجیها حضور نداشته باشند مردم افغانستان مجبور اند به یک طرح گزینش زعیم مملکت چه از طریق لویه جرگه چه از طریق شورای اهل حل و عقد و یا انتخابات موافقه کنند و بعداً از حکومت و نظام منتخب پشتیبانی کنند.

علاوتاً حضور بیرونیان جامعهٔ ما را در ساحات مختلف متضرر ساخته است. البته می پذیریم که عده یی از وجود این بیرونیان نفع برده خواهند بود؛ پول بدست آوردند، جایداد خریدند و از همین طریق بشهرت رسیدند؛ ولی تعداد اینگونه افراد در مقایسه با عامهٔ ملت خیلی اندک است. تنها ضربه یی را که ما در ساحهٔ فرهنگی بنام آزادی بیان متحمل شدیم شاید سالیان دراز نتوانیم آنرا تلافی کنیم. هکذا تعصبات قومیی که امروز سر برافراشته است که حرف شان حتی به لویه څارنوالی هم رسید و دهها مصیبت دیگر.

فلهذا ما نیاز به یک انتخابات آزاد و شفاف داریم، باید غوغا بر سر قرارداد امنیتی فرو نشیند و زمینهٔ آن مهیا شود تا ملت بتواند حرفهای کاندیداهای خود را بشنوند، گرچه هنوز فرصتی برای آغاز کمپاین انتخاباتی باقی مانده است؛ ولی اگر موضوع قرارداد امنیتی فضای سیاسی کشور ما را همچنان مکدرنگه دارد، کاندیداهای ما برای کمپاین هم فرصت کافی و خوبی نخواهند داشت. علاوتاً این تشویش نیز بر سر جایش باقی خواهد بود که بخصوص امریکا سعی خواهد کرد که همان کسی را به پیروزی برساند که با اهدافش کاملاً هماهنگ باشد.

بناء این تشویشهایی است که وجود دارد، باید جامعهٔ بین المللی در راه از بین بردن این تشویشها نقش خود را بازی کند. تا جاییکه مربوط می شود به قرارداد امنیتی، اگر رئیس جمهور با امریکا به توافق رسید، طبیعی است که آنرا امضا میکند و اگر نرسید آنرا نمی پذیرد؛ ولی امریکا نباید برخواست حضور خود آنقدر اصرار کند که فضای سیاسی کشور ما را آنقدر تاریک بسازد که حتی که یک مسأله مهم و حیاتی که عبارت از انتخابات ریاست جمهوری است، در طاق نسیان گذاشته شود و یا برآن چنان سایه افگند که مانند دور گذشته مشروعیت آن زیر سوال برود.

# دوه ډزې، څو څپېړې، څو قونداغونه او څو کنځلې

سنګروال

د تیرې سه شنبې په ورځ د لغمان ولایت الینګار ولسوالی ته څیرمه د محلي پولیسو په پوسته کې یوه سراچه ډوله موټر ډریور د محلي پولیسو د تلاشی په پوسته کې دنه ودرېدو له کبله له یوې عجیبې سزا سره مخامخ شو. هم ورباندې ډزې وشوې هم یې دو څپیړې وخوړې او هم کنځلې او د کنداغونو ګوزار. دغه سراچه ډول موټر چې زموږ له موټر نه دوه درې ګزه مخکې روان و یوه ناڅاپي ورباندې د کلاشنکوف دوه ډزې وشوې او د بهرته د راتاوېدو غږ یې ورباندې وکړ. زه نه پوهېږم چې هغه د تلاشی په پوسته کې موټر ولې نه و ودرولې؟ ایا نابلد و او که په دې خاطر یې نه و ودرولی چې هلته ولاړ ځوان پر تن رسمي دریشي نه درلود او په شخصي کالیو کې ولاړ و. هره وجه چې وه هغه به ډریور ته ښه معلوم وي، خو هغه چې خوړوونکی او درددوونکی و هغه دا و چې د کلاشنکوف ډزو موږ او هلته ولاړ نور کسان یې ډېر پرشانه کړل. بیا کله چې له تلاشي نه څو ګزه وړاندې تېر شوې موټر بېرته پر شا راغله نو قهرېدلي محلي پولیس دروازې ته په منډه نژدې شو او د کنځلو ترڅنګ یې دهغه پرمخ د څو څپېړو باران هم وکړ چې پر دې یې زړه یخ نه شو نو د کلاشنکوف پر قونداغونو یې هم دهغه اوږې پستې کړی. ددغه حالت پر لیدلو هلته ولاړو خلکو او زموږ د موټر سورلیو د محلي پولیس پر دې کړنه افسوس ښکاره کړ او د هر چا د خولې همدا یوه خبره وتله چې پورته د مخالفینو له لاسه کرېږو او لاندې د حکومتي پولیسو له لاسه. که بالفرض ډریور ملامت هم وګڼو نو ددې سزا باید اړونده مسؤول ورکړی وای نه پولیس. کېدای شي ډریور نابلده وي او په دې نه وي پوه شوې چې دلته د تلاشی پوسته ده: بله دا چې پولیس په شخصي جامو کې ولاړو او داسې نه ښکاره کېده چې ولاړ ځوان پولیس دی.

په موټر کې ناست د یوې لیسې مدیر وویل: که زموږ د پولیس د ظلم او ناانصافي دا حالت وي نو بیا دولت پخپل لاس ځانته مخالفین زیاتوي او خلک دېته اړ باسي چې د خپل انتقام اور د څړولو لپاره د مخالفینو په صف کې ودرېږي. ډېر د افسوس خبره ده چې زموږ په افغانانو کې له هوش نه بې ځایه جوش زیات لیدل کېږي او هر څوک چې دوه ګوتې اوچت شي هغه بیا بل ته د حیوان په سترګه هم نه ګوري خامخا له خپل قدرت نه ناوړه ګټه پورته کوي او خپل برتري د بل چا په وهلو او کنځلو سره ښکاره کوي. په داسې حال کې چې مقتدرو وګړو ته تل دا پکار دي چې د اهلیت او ښه خدمت په ترسره کولو سره د ترلاس لاندې وګړو همدردي ترلاسه کړي، متأسفانه په افغانستان کې دغه اصل سرخوړلې او هره مقتدره طبقه د خپل ظلم، بربریت او بداخلاقي په ښودلو سره خپل ځان مطرح کوي.

له څه شک پرته تلاشي د پولیس قانوني حق دی که څوک واقعا اسناد ونلري او شک ورباندې وشي نو پولیس ددې پرځای چې پر هغه د خلکو پر وړاندې د څپېړو او سوکانو باران جوړ کړي. بدې ردې او کنځلې ورته وکړي په ابرومندانه توګه دې خپلې قانوني مرجع ته حواله کړي. لدې واقعې نه وړاندې یوه بله پېښه چې زما په وړاندې شوې هغه څه داسې ده: له ماسره په څنګ کې په سراچه موټر کې ناست یو تنکی ځوان چې رنګړی ږیره یې پرمخ وه د الینګار له محبس نه لږ پورته په شخصي کالیو کې ولاړو کسانو زمونږ موټر ودراو. په موټر کې پر ناستو خلکو د نظر اچولو وروسته زما ترڅنګ ناست ځوان ته وویل: څه کار کوئ؟ هغه ورته وویل: د جلال آباد د سرشاهي په سیمه کې د پولیسو په اکاډمي کې درس وایم، هغه ورته وویل: اسناد درسره شته؟ بلی، تذکره راسره شته خو د اکاډمی کارت راسره نشته ځکه چې کور ته روان یم او هلته د دولت مخالفین دي. که هغوی راسره دا وویني نو ما ژوندی نه پرېږدي. هغه ورته وویل: ته بیا د مخالفینو کس یې دهغوی په دستور په اکاډمي کې داخل شوی یې.

ځوان ورته وویل زموږ د سیمې تر دوه زرو زیات ځوانان په اردو او پولیس کې خدمت کوي ایا هغوی هم ټول د مخالفینو ملګري دي؟! هغه ورته وویل: بیا زه ولې پورته نشم تللې دا چې ته پورته ځې او مخالفین څه درته نه وایي همدا ستا په مشکوکتوب دلالت کوي، ځوان ورته وویل: ته ولې دومره ساده خبرې کوې؟ هغه چې د ځوان د خولې ساده لفظ واورید نو تک سور شو او پر ځوان یې د څپېړو او سوکانو باران جوړ کړ له څټ نه یې ونیوه او په رینجر کې یې واچاو، زه دهغه خواته نږدې شوم او ورته مې وویل: دا ځوان رښتیا د پولیسو په اکاډمی کې دی، زه یې پیژنم او زما کلیوال دی، هغه راته وویل: پرېږده چې ما وپیژني چې زه څوک یم، زه د استخباراتو لوی سړی یم لوی سړی ددې د عمر هومره زما تجربه ده.

ما ورته وویل لوی سړی باید لوی زړه هم ولری د یو تنکي ځوان په مقابل کې دومره جذباتي کېدل ستا له شان سره نه ښایي، د لویانو کار دا دی چې د ځوانانو زړونه ترلاسه کړي او د ترحم له لارې د هغوی په زړونو کې ځای پیدا کړي. بالاخره لس دقیقې وروسته یې خوشې کړ او ورته یې وویل: اینده چېرته داسې ګستاخي ونکړې. په موټر کې ټولو ناستو خلکو دهغه په دې سلوک افسوس ښکاره کړه او ویې ویل: که د استخباراتو د مامورینو او پولیسو همدا رویه وي نو د مخالفینو په زیاتولو کې به له دوی نه زیات بل څوک لوی رول ولوبولی شي؟ تر څو چې دوی له خپل ظالمانه کړنی او بدمعاشي څخه لاس په سر نشي د مخالفتونو لړۍ به کله هم کمه نشي. ښه به دا وي چې د اړوندې اداري لوړ پوړي چارواکي خپل مامورین د قانون له چوکاټ نه دباندې له هر ډول کړنې څخه بند، او د نظم او دسپلین پابند وګرځوي.

## افغانان د هر هغه تړون مخالفت کوي چې ګټې یې تر پښو لاندې شوي وي

(د عمیر خلیل لیکنه)

په دې کې هیڅ شک نشته چې د امریکا او افغانستان ترمنځ د امنیتي تړون په سند کې دواړه هېوادونه حق لري چې د خپلو خپلو هېوادو ګټې په نظر کې ونیسي. که امریکا د خپلو ګټو د تأمین په خاطر امنیتي تړون لاسلیکول غواړي؛ نو افغانستان هم قانوني حق لري چې په دې امنیتي تړون کې خپل هر اړخیزې ګټې په پام کې ونیسي. نه ښایي امریکا د امنیتي تړون د سند په لاسلیکولو کې پر افغانستان فشار واچوي او افغانستان دېته اړ باسي چې د امریکا په شرایطو پر امنیتي تړون لاسلیک وکړي. له څه شک پرته په اوسنیو شرایطو کې چې افغانستان له ګټو لوریو نه تر تهدید لاندې دی او ډیری هېوادونه پر دغه امنیتي تړون خوشحاله نه دي. له امریکا سره د امنیتي تړون په لاسلیکولو کې لوی خطر په سر اخلي، افغانان حق لري چې د خپل راتلونکی په اړه جدي غور او فکر وکړي او هغه لاره ونیسي چې د افغانستان په ګټه وي، نه دا چې امنیتي تړون هم وکړي او د تېر په څېر له وژنو، مرګونو او ډول ډول ستونزو له منګولو څخه هم خلاصون ترلاسه نه کړي. هر افغان ته پکار دی چې دغه امنیتي تړون ته په سطحي نظر ونه ګوري، دا څه د کرکټ لوبه نه ده چې سباته منسوخ شي.

د افغانانو ګټه په دې کې ده چې په دې اړه نه یواځې د افغانستان پوهان او علما پخپلو کې سره سلا مشوره وکړي بلکې د نړی دهغو هېوادونو له تجربو نه هم ګټه پورته کړي چې له امریکا سره امنیتي تړونونه لري. پر خپلو هغه شرایطو دې ټینګ ودرېږي چې د افغانستان راتلونکي لپاره ګټور وي او دهغو شرایطو له منلو څخه دې په کلکه ډډه وکړي چې افغانستان نور هم له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کوي.

د افغانستان ولس چې د څو لسیزو راهیسې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دی نور ددغو ستونزو د زغملو توان نه لري. که چېرته امریکا او د نړی نور هېوادونه واقعا د افغانستان خیر غواړي؛ نو د افغانانو دهغو غوښتنو ته دې پاملرنه وکړي چې دهغوی د ستونزو په لیرې کولو کې مرسته کوي.

د افغانانو تر ټولو لویه اړتیا سوله، امنیت او ملي استحکام دی، په افغانستان کې د امریکا شتون ته به هله زړه ښه کړي چې په افغانستان کې د امنیت تأمین تضمین کړي، اقتصاد یې پیاوړی او د بهرنیو مداخلو مخه ونیسي، له مخالفینو سره د سولې د پروسې ملاتړ وکړي او د افغانانو پر کورونو د حملو او تلاشي کولو څخه لاس په سر شي، که چېرته امریکا د افغانانو دغه مشکل نشي حل کولې او امنیتي تړون له لاسلیکولو وروسته بیا هم افغانان د غربت او جګړو په اور کې سوځېږي؛ نو بیا افغانان داسې یو تړون ته څنګه زړه ښه کولې شي چې دهغوی د یو درد دوا هم نه شي کولې.

## یادی از خاطرات مرحوم الحاج جنرال عبدالهادی «نورزاد»

تحریر اقبالیار بابکرخیل

برادر مجاهد مرحوم عبدالهادی فرزند الحاج عبدالباقی در سال ۱۳۳۱ هـ ش در ولایت کابل ولسوالي ده سبز قریه ده یحیی چشم به این دنیای پرآشوب گشود. موصوف مکتب ابتدائیه را در ده یحیی، لیسه را در انصاری و ابن سینا فرا گرفت. زمانیکه نهضت اسلامی به ابتکار برادران پوهنتون کابل «جوانان مسلمان» تازه نهال شانی شده بود، او در پهلوی سایر برادران لیسه انصاری مانند شهید شاه ابدال از پنجشیر، شهید داکتر محمد الیاس طوطاخیل از پکتیا و مرحوم قاضی محمودشاه از قریه ده یحیی به دعوت برادران به بسیار شوق و جبین گشاده لبیک گفته، در پهلوی آنها دوشا دوش به مبارزه و دعوت اسلامی شروع بکار نمود و از همان عنفوان جوانی تا آخرین رمق حیات در تعهد خود استوار و وفادار در مقابل روس های وحشی و غلام های حلقه بگوش شان به جهاد مسلحانه و مبارزه فرهنگی ادامه داده و در دعوت مردم مسلمان از اقشار مختلف کوشا بوده به تعهدیکه ۴۴ سال قبل از امروز بخاطر اعلای کلمة الله و حاکمیت قانون الهی در روی زمین نموده بود، تا آخرین رمق حیات به آن وفادار باقی ماند و بیرق سبز اسلام در سر قلعه اش حالا هم به اهتزاز میباشد که مسلمانان با دیانت از دیدن آن شاد و مسرور و منافقین و بی دینان در دلشان رُعب و لرزه احساس میگردید.

مرحوم نورزاد چون مرد دلسوز و متفکر بود، شب و روز در خدمت مردم خود قرار داشت از همین لحاظ در قلب مردم خود جایگاهی خاص دارد. همین لیاقت محبوبیت در بین خلق الله سبب آن گردید، تا رهبری حزب اسلامی او را به صفت امیر ولسوالی و از طرف شورای مردم ده سبز و دولت موصوف را به صفت رئیس شورای انکشافی مردمی توظیف نماید. او توانست از هر دو امانت موفق بدر آید، موصوف در بین برادران الگوی مقاومت، شجاعت، وفادار به وطن، اسلام و مردم خود بود.

عصر همان روز که شب آن وفات می نمود برایش تیلفون نمودم گفتم حاجی صاحب در چه کار مصروف هستید؟ برایم گفت: فقط کتابچه فهرست نمرات موبایل برادران را ورق میزنم با هر کدام در عالم رؤیا مناظره دارم با هر یک در مورد آینده افغانستان جر و بحث می کنم، فقط نظر خواهی من درین حد رسیده و به این نتیجه رسیده ام، اگر خداوند جل جلاله بخواهد و ما متوجه اسلام شویم و اسلام را بالای خود تطبیق کنیم، زمانی افغانستان به اوج ارتقا و ترقی میرسد که اجنبی ها از افغانستان بدون قید و شرط برایند در آن یک حکومت اسلامی و نظام الهی حاکم گردیده مسئله پشتون، تاجک، ازبک، هزاره وغیره از آن برداشته شده، کار به اهل کار داده شود. ان شاء الله آنروز دور نیست به شرط آنکه ما مؤمن کامل شویم. با من وعده و دعوت نمود تا در همین روزهای نزدیک به خانه و باغ شان رفته مقدار انگور را جهت برادران نگهداشته ام تا سال آینده کی مرده و کی زنده، خدا حافظی نمودیم.

مرحوم نورزاد در همین شب ۱۳ میزان سال ۱۳۹۲ ساعت ۴۵ : ۱۲ شب اجل به سراغ شان آمد به دار بقاء پیوست.

انا لله و انا الیه راجعون

در جنازه شان هزارها تن دوستان، برادران، اقارب، آشنایان، سیاسیون، علما، صاحبمنصبان اردو، پولیس و رجال دولتی اشتراک نموده بودند. وفات شان یک ضایعهٔ بزرگ برای مردم ده سبز حساب می شود. قرار اظهار پسرش که به من گفت: زمانیکه با پدر جانم صحبت تیلفونی داشتید من در تخت بام مهمانخانه مصروف کار بودم تمام گپ های شما را شنیده، و این شعر را که تازه سروده بود با خود زمزمه می نمود که آوازش در تخت بام خانه شنیده میشد.

فدای همت آن مرد که تن به ننگ نداد
به روز جنگ گریبان خود به چنگ نداد
جهان شرافت آن مرد را کنند تصدیق
که جان داد به دشمن سلاح جنگ نداد

(نورزاد)

من برای برادران، خانواده، مردم ولسوالی متدین و مجاهد ده سبز تهنیت و تسلیت عرض نموده برای مرحومی از خداوند جل جلاله بهشت برین و برای بازمانده گانش صبر جمیل استدعا مینمایم.

راهش مستدام، روحش شاد باد!

اونیزه
# شهادت
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com




# افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

## پنټاګون د افغانستان لپاره نورې نغدې پیسې نه لري

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه، پنټاګون د افغانستان لپاره نورې نغدي پیسې نه لري، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکي:
د امریکا حکومت تر اوسه پورې د افغانستان د دفاع وزارت لپاره پرمختګ ودانۍ ۱۰۷ ملیون ډالره لګولي چې؛ د هنري تابلوګانو د ننداري ځایونه او په کابل کې ترټولو لوی دوهم سالون یې کې په پام کې نیول شوي دي.
د ورځپاڼې په وینا پر دغې ښکلې بوډیزې عصري ودانۍ دغه لګښت د لومړني تخمین دوه چنده زیات دی.
واشنګټن پوسټ لیکي:
د دغې ودانۍ د جوړولو لپاره د پټې له پریکولو څلور کاله وروسته ساختماني کارکونکي خپل کارونه درولي او علت یې هم دا دی چې د امریکا د دفاع وزارت نور د دغې پروژې د بشپړولو لپاره پیسې نه لري.
د ورځپاڼې په وینا له څلورو کلونو راهیسې د افغانستان پر بیارغونې د امریکا څارونکي اداري په خپلو راپورونو کې په دې هېواد کې د امریکا په مرسته په پروژو کې د پیسو د بې ځایه لګولو او بې نظمیو خبر ورکړی، خو د افغانستان د دفاع وزارت ودانۍ د دې یوه ښکاره بیلګه ده چې؛ په دې هېواد کې د امریکا د پراختیې پانګونې سمه څارنه نه کیږي.
واشنګټن پوسټ ته یوه امریکایي چارواکي چې په دغه پروژه کې ښکیل دی د خپل نوم نه ښودلو په شرط ویلي چې؛ هیڅ څا هغسې چې لازمه وه دغه پروژه نه څارله چې د دې چارواکي په وینا دا د مور غټه ناکامي ده.
ګلوبال پوسټ:
ګلوبال پوسټ انټرنیټي خپرونې افغانستان ته د امریکا د دفاع د وزیر د سفر په اړه په یوه مطلب کې ویلي چې؛
چک هیګل به چې په ناڅاپي سفر د شنبې په ورځ افغانستان ته تللی او له افغان ولسمشر سره یې هم نه دي کتلي هڅه وکړي چې د کابل او واشنګټن ترمنځ د امنیتي تړون لپاره ملاتړ راجلب کړي.
د خپرونې په وینا دا چې هیګل له کرزي سره له کتنې ډډه کړې دا د امریکا د هغې نوې ستراتیژۍ د هڅو یوه برخه ده چې هدف یې د امنیتي تړون لاسلیک ته د افغان مشرانو هڅول دي.
د دغه تړون له مخې له ۲۰۱۴ کال وروسته امریکایي ځواکونو ته د پاتې کیدو اجازه ورکول کیږي چې افغان امنیتي ځواکونو ته به روزنه ورکوي.

# فساد بر وضعیت اقتصادی و سیاسی کشور تاثیر بد دارد

کابل، رسانه ها:
شبکهٔ افغانی مبارزهٔ با فساد اداری می گوید که فساد موجود در کشور؛ بالای وضعیت اقتصادی، اجتماعی، امنیتی و سیاسی کشور، تاثیرات بد دارد.
اظهارات مذکور را مسوولین این شبکه، شب گذشته در یک نشست که به مناسبت روز جهانی مبارزه با فساد اداری در کابل برگزار شده بود، بیان نمودند.
تاریخ ۱۸ ماه قوس در جهان، به نام مبارزه علیه فساد اداری تجلیل میشود. این روز در افغانستان درحالی تجلیل میگردد که افغانستان از سوی سازمان جهانی ( ترانسپرنسی انترنیشل) به حیث اولین کشور فاسد جهان اعلام شد.
خان زمان امرخیل رییس شبکهٔ افغانی مبارزه با فساد اداری، به آژانس خبری پژواک گفت که شبکهٔ آنها از سه سال گذشته بدینسو، در بخش مبارزه با فساد اداری در ۳۴ ولایت افغانستان فعالیت دارد.
به گفتهٔ وی، فساد پدیدهٔ بد و شوم در یک جامعهٔ اسلامی میباشد که روی وضعیت اقتصادی، اجتماعی و سیاسی کشور تاثیرات بد دارد و باید که مبارزهٔ جدی در مقابل آن صورت گیرد.
موصوف از حکومت خواست تا در مقابل فساد اداری مبارزهٔ جدی نماید، قانون معادن را بعد از تغیر از شورای ملی خلاص و قراردادهای پروژه های بزرگ را به شکل علنی انجام دهد.
منبع، همچنان از حکومت خواست تا نام های مفسدین را افشا و امنیت افشاکنندگان آنها را تامین نماید. به گفتهٔ وی، تا کنون ۱۴۰ دوسیهٔ فساد اداری، به څارنوالی فرستاده شده؛ اما څارنوالی تاکنون در این بخش هیچ اقدامی نکرده است.
به گفتهٔ امرخیل، حکومت باید انتخابات شفاف را برگزار کند، قانون دسترسی به معلومات را تصویب نماید، تعهدات کنفرانس توکیو را تصویب و همچنان در بخش محو فساد اداری، با نهادهای مدنی همکاری نماید.

## افغانستان و ایران پیمان دوستی ...

در این دیدار وزرای خارجه افغانستان و ایران نیز حضور داشتند و به آنان وظیفه سپرده شد تا کار روی تنظیم متن این پیمان را آغاز کنند.
حامد کرزی همچنان در جریان این سفر با محمد جواد ظریف، وزیر خارجه ایران و شماری دیگر از مقام های بلند پایه ایران دیدار و گفت و گو کرد.
رئیس جمهوری کشور با وزیر خارجه ایران در مورد پروسه صلح افغانستان و گسترش روابط و همکاری ها میان دو کشور در عرصه های مختلف به ویژه همکاری های ترانزیتی، تبادلات سرحدی و صدور ویزه ایران برای اتباع افغانستان گفت و گو کردند.
در این دیدار محمد جواد ظریف گفت که ایران از پروسه صلح افغانستان حمایت می کند و آماده هر گونه همکاری در این راستا است.

## ټاکنو کې درغلی او ناامني لویې ...

د مدني ټولنې غړي او سیاسي شخصیتونه په محتاطانه ډول هیله مند کړي دي.
دې څلور کسیزه پلاوي د ټاکنو د قانون تصویب او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د غړو په ټاکلو کې د مدني ټولنې او ملي شورا د غړو ونډه ستایلې. له دې وړاندې د دې کمیسیونون غړي د ولسمشر له خوا ټاکل کیدل.
خو دا پلاوي وایي امنیتي ستونزې او دا چې لا هم د په ټاکنو د درغلۍ او د حکومتي چارواکو د لاسوهنې ویره شته د راتلونکو ولسمشریزو او لایتي شوراګانو د ټاکنو په وړاندې لوې ننګونې دي.
د دې پلاوي غړي کارل اندرفورث چې د سویلي آسیا په چارو کې د د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال وو وایي د ژمي موسم د دې ټاکنو په وړاندې بله ننګونه ده.
"مونږ ټول پوهیږو چې د ۲۰۱۴ کال ټاکنې له یو لړ ننګونو سره مخامخ دي او کیدای شي د دې ټاکنو پر شفافیت منفي اغیز وکړي، امنیتي ستونزې، په رایو اچونه کې ناقانونه کړنې او سره هوا هغه لویې ننګونې دي چې راتلونکې ټاکنې ورسره مخامخ دي."
ښاغلي اندرفورث زیاتوي د امریکا او افغانستان ترمنځ د امنیتي تړون مساله د افغانانو پورې اړه لري چې دوی یې باید د ده په وینا په اړه پریکړه وکړي. خو نوموړي وایي د ارزونې پلاوي سپارښته کوي چې نوماندان دې په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو کې د دې تړون په اړه خبرې وکړي.
دې پلاوي چې د ولسمشر حامد کرزي په ګډون یې له بیلابیلو افغان چارواکو، د مدني ټولنې له غړو او د راتلونکو ټاکنو له نوماندانو سره کتلي خپلې شپاړلس سپارښتنې د یوه رپوټ په بڼه وړاندې کړې.
د ارزونې دغې ډلې سپارښته کړې چې په ټاکنو د درغلیو د مخنیوي لپاره دې دعامه پوهاوي پراخ هڅې وشي.
دغه راز دغې ډلې سپارښته کړې چې په راتلونکو ټاکنو کې د حکومت د احتمالي مداخلې د مخنیوي اصل لاپیاوړی شي او د کورنیو چارو وزارت دې د ټاکنو د امنیت په برخه کې خپل ځانګړي پروګرامونه جوړ کړي.
د ملي دیموکراتیک انسټیټوټ د ارزونې ډلې دغه راز د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته سپارښته کړې چې د ولسمشریزو د احتمالي

دویم دور ټاکنو لپاره ځانګړي طرزالعملونه په پام کې ونیسي.
په پام کې ده چې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې د راتلونکي کال د وري میاشتې په شپاړلسمه نیټه ترسره شي.
افغان حکومت هم وایي چې امنیتي ستونزې د راتلونکو ټاکنو په وړاندې ستره ننګونه ده خو ټل یې په ټاکنو کې به یې پرېښوب ټینګار کړی.

## هشدار وزیر دفاع امریکا در مورد...

چک هیګل می ګوید که امریکا نیاز دارد تا این موافقتنامه امضا شود.
به گفته، هیګل، امضای موافقتنامه با افغانستان برای پلان ګذاری های امریکا و متحدان اش مهم است.
وزیر دفاع امریکا در جریان دیدار اش از افغانستان با خبرنګار شبکه، تلویزیونی سی بی اس در این مورد صحبت کرد.
او گفته است، که در صورت امضا نشدن موافقتنامه، امنیتی و دفاعی کابل و واشنګتن، خروج تمام نیرو های امریکایی در ختم سال ۲۰۱۴ از افغانستان یک احتمال بسیار واقعی است؛
"اگر ما موافقتنامه، امنیتی دو جانبه نداشته باشیم، به این معنی است که ما نمی توانیم از نیرو های خود پس از ۲۰۱۴ در افغانستان محافظت کنیم، هیچ شریک بین المللی ما به افغانستان نخواهد آمد. افغانستان در حقیقت تنها خواهد ماند."
وزیر دفاع امریکا اضافه کرد که آرزو دارد تا رییس جمهور کرزی در مورد موافقتنامه، امنیتی و دفاعی کابل و واشنګتن تصمیم درست بګیرد.
رییس جمهور کرزی برای نظر خواهی از مردم در مورد این موافقتنامه، لویه جرګه، مشورتی را برګزار کرد.
اکثریت اعضای این جرګه از آقای کرزی خواستند تا این موافقتنامه را امضا کند.
اما رییس جمهور کرزی ګفته است، در صورت پذیرفته شدن شرط های افغانستان از سوی امریکا، این کار را خواهد کرد.
آغاز عملی پروسه، صلح افغانستان و توقف عملیات نیرو های امریکایی بالای خانه های افغان ها از شرط های اساسی آقای کرزی استند. وزیر دفاع امریکا در حالی در مورد خروج احتمالی سربازان کشورش از افغانستان صحبت کرده است، که رییس جمهور ایران با حضور نیرو های بین المللی در افغانستان مخالفت کرد.
حسن روحانی در دیدار با رییس جمهور افغانستان در تهران خواهان خروج همه، این نیرو ها از افغانستان شد.

## مافیا او وسلوال مخالفین د کوکنارو...

وزارت د ۱۸ هغو ولایتونو چې د کوکنارو کرنه دې په کې ختم شوې له چارواکو غوښتي چې؛ په خپلو ولایتونو کې دې پراختیایي او د بیارغونې پروژې سمې عملي کړي. افغان دولت د تیرو څو کلونو راهیسې د دې لپاره چې خلک د کوکنارو له کر څخه راوګرځوي په ولایتونو کې د بیارغونې پروژې عملي کوي.
له نشه یي توکو سره د مبارزې سرپرست وزیر دین محمد مبارز راشدي ونه ویل چې؛ تر اوسه پورې د دې ډول پروژو په عملي کولو کې څه ستونزې وې.
خو نوموړي وویل، وروسته له دې باید دارنګه پروژې د بزګرو په ګټه تطبیق شي نه دا چې لکه پروژې وړاندې بشپړې شي.
ښاغلي راشدي د یکشنبې په ورځ د یو شمیر والیانو د غونډې په څنډه کې ازادي راډیو ته وویل، چې په دې هېواد کې اوس هم د نشه یي توکو د کښت او تولید ملاتړ د مافیایي کړیو او وسله وال مخالفینو له خوا کیږي او والیان یې باید پر ضد جدي مبارزه وکړي.
له نشه توکو سره د مبارزې وزارت دا غوښتنه وروسته تر هغه د ۱۸ ولایتونو له والیانو او امنیه قومندانانو څخه کوي، چې د همدې وزارت د معلوماتو له مخې په افغانستان کې د کوکنارو په کښت کې د تیر کال په پرتله ۳۶ فیصده ډېروالی راغلی دی.
د نشه یي توکو پر ضد د ملګرو ملتو اداري UNODC په خپل وروستي راپور کې ویلي چې؛ د نشه یي توکو د تولید کچه ۴۹ سلنه ډېره شوې او اندازه یې ۵۵۰۰ ټنو ته پورته شوې، چې له تړیوالي اوسنی تقاضا هم ډېره ده.
د جنوبي ولایتونو سیمه ییز حکومتي مسوولین بیا وایي، چې دوي ته له نشه یي توکو سره د مبارزې لپاره پوره امکانات نه ورکول کیږي.
د والیانو او امنیتي مسوولینو په ګډ کنفرانس کې د کندهار والي توریالي ویسا ازادي راډیو ته وویل، چې دوي ته یوازې پالیسي ورکول کیږي، خو د عملي کولو امکانات یې نه لري.
له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت ویلي، چې ۹۰ فیصده کوکنار په ۹ تا امنیو ولایتونو کې کرل کیږي او ملګرو ملتونو بیا په خپل راپور کې ویلي، چې د کرل شوو کوکنارو ډېره برخه په جنوبي ولایت هلمند کې کښت شوې ده.
افغان چارواکي نا امني یو هغه اساسي لامل بولي، چې د نشه یي توکو د کښت او تولید پر ضد یې مبارزه ټکنې کړې ده.

## په افغانستان کې دسواد زده کړه...

له پاره دسواد زده کړو زمینه برابره کړي او افغانستان له روانو ناخوالو څخه وژغوري.
دوردګ په وینا په ټول هیواد کې ۱۶زره او ۶ سوه دسواد زده کړو مرکزونه موجود دي.
وردګ په خپلو خبرو کې زیاته کړه چې له نړیوالې ټولنې سره دنښاکل شوې وخت وړاندې به په ټول افغانستان کې داسې ماشوم پاته نشي چې دښوونځي پر شرایطو برابر وي خو ښوونځي ته نه ځي؛ "مونږ دخدای په فضل سره وتوانیدو، څه مو چې له نړۍ سره ژمنه کړې وه، څه مو چې له خدای سره ژمنه کړې وه او څه مو چې له ملت سره ژمنه کړې وه، هغې ته ورسیږو. دا اهداف به تر ۲۰۲۰م کال وړاندې په لاس راوړو. هدف مو دښوونځي پر شرایطو دبرابرو ماشومانو دی چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې به یې په ښوونځیو کې دشمولیت چارې بشپړې شي."
ډاکټر فاروق وردګ همدا رنګه زیاته کړه چې دعلماوو په مرسته پر دې توانیدلي دي چې دمدرسو او ښوونځیو ترمنځ هغه تربګنې او فاصلې لیرې کړي چې په وینا یې دمدرسو دطالبانو او دښوونځیو دزده کوونکو ترمنځ برتې وې. په ورته وخت کې په افغانستان کې دسویډن سفیر پیټر سمیبي، هم دپوهنې وزارت پرمختګونه وستایل او زیاته یې کړه چې په دغه هیواد کې به دسواد زده کړې دپراختیا په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.
پیټر همدا شان زیاته کړه چې له ۲۰۰۸م کال راهیسې په افغانستان کې څه باندې ۶۰۰ زره کسان باسواده شوي دي چې له دغه جملې څخه یې ۶۰ سلنه میرمنې دي. دهغه په وینا دسواد زده کړو دکچې دلوړولو په برخه کې به دافغانستان له نهو ولایتونو سره په نږدې راتلونکې کې لس میلیونه ډالر مرسته وکړي:
"زمونږ مستقیم ملاتړ به په نږدې راتلونکې کې له نهو ولایتونو څخه وي چې دبغلان، هرات، هلمند، جوزجان، کندهار، کاپیسا، کندز، لغمان او دپکتیا ولایتونه دي."
له بل پلوه دپوهنې دوزارت دپروګرامونو مشر الله باز جم، وایي چې تر راتلونکو شپږو کلونو پورې به ۶۰ سلنه نور کسان هم دسواد له نعمت څخه برخمن کړي؛ "خپله دافغان دولت دامکاناتو تر څنګ دبهرنیو مرستندویه کوونکو هیوادونو مرستې هم راسره شته دي چې ویه کولی شو دغې ستونزې ته دپای ټکی کیږدو."
دپوهنې وزارت دچارواکو په باور چې تر دې مهاله دسواد زده کړو په پروګرام کې څه باندې دوه نیم میلیونه کسانو دسواد زده کړې تر لاسه کړې دي.